SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
دریم کال اته دیرشمه گڼه پرله پسې (۱۳۸) چهارشنبه د۱٤۱۹هق کال دصفرالمظفر (۲۳) د۱۳۷۷ هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتې (۲۷) د۱۹۹۸میلادي کال جون (۱۷)

د هیواد هوايي ډگرونه په عصري دستگاه و سمباليږي

د ملکي هوايي چلند د لوی ریاست او د نړیوال هوايي چلند د اتحادیې تر منځ د همکارۍ نوی تړون لاسلیك شو

د افغانستان د اسلامي امارت د ملکي هوايي چلند او توریزم د عمومي ریاست او د نړیوال هوايي چلند د اتحادیې تر منځ د همکاري د نوي تړون په لاسلیك کیدو سره د افغانستان هوايي ډگرونه په مدرنو دستگاه و سره سمباليږي.

د افغانستان د اسلامي امارت د ملکي هوايي چلند او توریزم عمومي ریاست په دي وروستیو وختو کي د اتو ملیونو دالرو په تول ارزښت د نړیوال هوايي چلند له اتحادیي سره د هوايي تجهیزاتو د پیرودني پروتوکول لاسلیك کړ.

په پروتوکول کي ویل شوي دي چي د نړیوال هوايي چلند د اتحادیي لوري د افغانستان د اسلامي امارت هوايي ډ گرونه په لومړي گام کي د کابل نړیوال هوايي ډگر او د کندهار هرات او د جلال آباد هوايي ډگرونه د هوايي کرښو د لارښوونې په مدرنو دستگاه و په ځمکه کي د الوتکو له مرکزونو سره د هغوي د ارتباط د تامین او د الوتکو د بي خطره الوتنو لپاره د باد د چټکتیا او د جوي حالت د تشخیص او د غه راز د هغو بهرنیو الوتکو لپاره د لازمو مرستو په دستگاوو سره سمبالوي چي د افغانستان له فضا نه تیریږي. ځلورم مخ

> **الهی فرمان**
>
> عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
>
> (سورة المائدة)

د سرپرستي شورا رئیس د عربي اماراتو په رسمي بلنه هغه هیواد ته روان شو

د سرپرستي شورا رئیس محترم الحاج ملا محمد رباني د عربي متحده اماراتو په رسمي او دوستانه بلنه د یوه هیأت په مشري دغه هیواد ته روان شو.

د سرپرستي شورا مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ: تاکل شوي ده د سرپرستي شورا محترم رئیس په عربي متحده اماراتو کي د خپلي استوگني په وخت کي د افغانستان د اسلامي امارت او د عربي متحده اماراتو تر منځ د دوستانه او وروگلویز اړیکو د لاټینگښت او پراختیا په تیره بیا د افغانستان د اقتصادي او پراختیايي ځلورم مخ

یك حمله وسیع ملیشه ها در ولایت بغلان به شکست مواجه گردید

یك حمله وسیع ملیشه هاي وحدتي و کیهاني بالاي مواضع نیرو هاي اردوي اسلامي و مجاهدین راه حق در ولایت بغلان به شکست کلي مواجه گردید.

خبر هاي رسیده به آژانس اطلاعاتي باختر حاکي از آنست که طي چند روز اخیر حملات پیهم و تعرضات ناکام دشمن بالاي سنگر هاي نیرو هاي اردوي امارت اسلامي صورت گرفته که در نتیجه دشمن تلفات سنگین را ص۵،٤

د اسلامي امت له ستر دښمن:

اسرائیلو سره د رباني له دوستانه اړیکو پرده پورته شوه

اسرائیلو د بهرنیو چارو د وزارت لوړ رتبه هیئت او د رباني نماینده گانو څو څو ځله مذاکرات کړيدي

دي کار په ملي او بین المللي کچ رباني رسوا او له شرمنده گي سره مخ کړ

له ډیري مودي را پدیخوا نړیوالو مطبوعاتو د اسلامي امت له گم دښمن اسرائیلو سره د ائتلافي اداري د مشرانو اوبه ځانگړي ډول د رباني له اړیکو نه پرده پورته کړیده څه موده وړاندي هم د پخواني شوروي اتحاد په یوو کمونستي جمهوریت کي د رباني د استازو او د اسرائیلو د سفیري تر منځ راشه درشه او راکړه ورکړه د روسانو په منگړتوب تر سره شوي وه او اوس دا دي یو ځل بیا نړیوالو مطبوعاتو له دي حقیقت نه پرده پورته کړه.

تیره شپه بي بي سي راډیو هم په خپله مابنامني خپرونه کي دا خبر خپور کړ او په دي هکله یې د منځني اسیا لپاره د اسرائیلو له یو کار پوه او د اسرائیلو د راډیو د فارس د څانگي له مسؤول شاه حمید سره اوږده مرکه وکړه چي مونږ یې هم مهم ټکي را اخلو:

> د بي بي سي خبر پال:
>
> **د رباني په دولت کي دوستم او مسعود هم شته چي له اسرائیلو سره هیڅ ډول دښمني او کینه نه لري**
>
> د منځني اسیا لپاره د اسرائیلو کار پوه شاه حمید:
>
> **حزب وحدت د ایران په لاس جوړ شوي گوند دی**

شاه حمید وویل چي: اسرائیل له ډیري مودي راهیسي په دي هڅه کي و چي په افغانستان کي له یو دولت سره اړیکي وساتي او ددي لپاره یې موزون سړي رباني او مناسبه اداره دده اداره وليدله او اوس چي اسرائیل د منځني اسیا جمهوریتونو ته هم پښې غځول غواړي او دي هیوادونو ته د طالبانو د اسلامي تحریك تر قیادت لاندي په افغانستان کي د نافذ اسلامي شریعت د وړانگو د ځغلیدلو ویره هم ویني نو دا ضرورت یې نور هم جدي شو. شاه حمید د بي بي سي د خبریال د یوي پوښتني په ځواب کي وویل چي: اصلاً حزب وحدت د ایران په لاس جوړ شوي گوند دي خو دا خبره د اسرائیلو لپاره مهمه نده، مهمه دا ده چي اسرائیل د رباني له دولت سره اړیکي ولري او د طالبو دریالیتوبونومخنیوني. ځلورم مخ

روسي پوځي هلیکوپتري هره ورځ ملیتو نه وسلي او پوځي مهمات لیږدوي

روسي پوځي هلیکوپترونه هره ورځ د تخار په ولایت کي د افغانستان د اسلامي امارت مخالفینو ته وسلي او پوځي مهمات لیږدوي.

د باختر اطلاعاتي آژانس د عیني شاهدانو له خولي خبر راکړ روسي پوځي هلیکوپترونه هره ورځ له پوځي مهماتو سره د تالقانو د ښاروالي په چمن کي راښکته کیږي او د جگړي د دوام په خاطر د افغانستان د ځلورم مخ

در ترکیه تظاهرات شدیدي بر خلاف منع حجاب شرعي صورت گرفت

در نتیجهء این تظاهرات صد ها تن مجروح و بازداشت گردیدند

طبق گزارشات منابع خبري بین المللي قبل از ظهر شنبه نوزدهم صفر المظفر مطابق سیزدهم جون ۱۹۹۸ عیسوي، در ترکیه تظاهرات شدید بر خلاف منع حجاب شرعي براه انداخته شد.

عساکر پولیس جبنیکه میخواستند این تظاهرات را سر کوب نمایند، با عکس العمل قاطع مظاهره چیان روبرو گردیده که در نتیجه بر خورد شدیدي که میان مظاهره چیان و عساکر پولیس صورت گرفت. از اثر این ص۵،٤

تیم جودوي المپیك حایز مقام اول گردید

مسابقات دوستانه جودو که چندي قبل از طرف ریاست عمومي تربیت بدني و سپورت بین تیم هاي المپیك، اردو، شعاع، میوند و استخبارات در میدان ورزشي ستدیوم ملي کابل تدویر گردیده بود خاتمه پذیرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در نتیجه این مسابقات تیم جودوي المپیك قهرمان هفت کلاس و حایز مقام اول و تیم هاي جودوي اردو و شعاع، میوند بالترتیب حایز مقام هاي دوم و سوم این مسابقات گردیدند.

سرمقاله

دوي خبري (ج) په نامه

د ملگرو ملتونو گرزنده جمهور رئیس(!!!) رباني او له اسرائیلو سره یې شرمیدلي اړیکې

د کمونستانو د اشغال او د افغانانو د هجرت په وخت کي رباني یوي معصومي ځیري ته ورته ښکاریده او تصنعي کسیني به یې په ځان خوره کړي وه مگر وروسته څرگنده شوه چي له تصنعي معصومتیا او کمیني نه لاندي یې د خپلو مسلمانو او مجاهدو هیوادوالو لپاره ځومره تباهي، دښمني، پیغورونه او ضرر ونه پټ کړي وو؟!

دا خبره لا هغه وخت ښکاره شوه چي له حکمتیار سره یې هغه وخت په هیواد کي د یوي سیمي او بلي سیمي د لاندي کولو په سر د جمعیت اسلامي او حزب اسلامي مجاهدین په خپل منځي جگړو کي سره اخته کړل، هغه غیرتمن او سپیڅلي مسلمانان چي گران اولادونه، مور او پلار او تولو هستي او نیستي یې د الله تعالی د کلمي د لوړوالي لپاره پري ایښي وه خپل سرونه، ژوند او ویني یې د دوي قوماندي ته سپارلي وي مگر دوي ظالمانو هغه سپیڅلي او دینداره مجاهدین د اعلاي کلمة النفس لپاره د زرگونو په شمیر یو په بل سره ووژل، دنیا او اخرت یې ور خراب کړل، انا لله و انا...!بیابي د ځان غوښتني دغه تخره هغه وخت اوج ته ورسوله چي د کابل په مظلومه خاوره کي یې بین المللي ننداري ته وړاندي کړه او هر څه بي تولي ترې ولیدل؛

وايي چي «د ظلم کاسه نسکوره وي» کله بي چي بیا د زوال او شرمولو شپي راغلي د طالبانو د اسلامي تحریك د پاکو دوهم مخ

سنگ تهداب مسجد جامع شاروالی ولایت کندز گذاشته شد

شبکه آبرساني آن ولایت مجدداً احیاء و مورد بهره برداري قرار گرفت

با تلاوت آیات چند از کلام لله مجید سنگ تهداب مسجد جامع شاروالي ولایت کندز گذاشته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در مراسم تهداب گذاري مسجد متذکره مسوولین، علما، بزرگان و جمع کثیري از اهالي ولایت کندز اشتراك نموده بودند محترم قاري احمد الله رئیس عمومي استخبارات و محترم الحاج محمد عارف والي ولایت کندز در رابطه به اعمار اماکن مقدسه در کشور صحبت نموده همکاري متداوم آن ولایت را در قسمت اعمار مسجد متذکره خواستار گردید.

مسجد مذکور که در ساحه یکهزار و سه صد متر مربع زمین در دو ص۵،٤

اب اشامیدني صحي براي بیش از چهار صد فامیل در ولایت ننگرهار تهیه گردیده است

به تعداد ۱۵۰ شبکه آبرساني و کاریز نمبر یك ولایت ننگرهار دو باره ترمیم و مواد استفاده قرار گرفت.

بیش از چهار صد خانواده طي سال گذشته از آب آشامیدني صحي در ولایت ص۵،٤

از چگونگي کار و تولید فابریکات بوت و صابون سازي افغان صنایع دیدن بعمل آمد

هیأت فني و مسلکي وزارت معادن و صنایع از چگونگي تولید فابریکات بوت و صابون سازي افغان صنایع دیدن بعمل آورد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: به منظور بررسي و ص۵،٤

تیم والیبال سره میاشت برنده کپ قهرماني شناخته شد

در دور فاینل مسابقات انتخاباتي والیبال که در جمنازیوم ورزشي مدرسه اماني صورت گرفته بود تیم والیبال سره میاشت حایز مقام اول و برنده کپ قهرماني شناخته شد.

این مسابقات که اخیرا از طرف ریاست تربیت بدني و سپورت بین ده تیم ص۵،٤

با خانواده هاي بي بضاعت ولایت لغمان کمك صورت گرفت

گزارش میدهد: برنج متذکره به هدایت محترم ملا نور الله نوري والي ولایت لغمان توسط هیأت سه نفري ایکه از ادارات مختلف آن ولایت تعیین گردیده بود پس از ص۵،٤

مقدار سي و پنج هزار و هفتصد کیلوگرام برنج اخیراً به خانواده هاي مستحق و بي بضاعت در مربوطات ولایت لغمان توزیع گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت لغمان

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کي (۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧) تیلفون: ۲۰۰۷۵
په پېښور کي : د طالبانو نمایندګۍ تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵۶۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتې برخه

طالبانو او مجاهدينو له لاسه د دوي شرمېدلي منډې هم نړۍ وليدلې او لا وينې يې، په داسي حال چي آخري انجام يې لاپاتې دي؛

وايي چي :« له ازاره چا بازار ميندلي نه دي» رباني د خپل شرمېدلي جمهوريت لپاره چي هر څومره هڅې کړي دي د ګټې په ځاي يې له رسوايي او فضيحت نه پرته نور څه نه دي تر لاسه کړي ، که په ده باندي او دده د جرمونو په شريکانو هر څه واي خو واي دي، مګر مصيبت دا دي چي دي او ظالمه جبهه يې د هيواد په هر ګوټ کي چي وي د هغه ځاي مسلمانان او مجاهد هيوادوال يې په سره اور کي ورسره درولي وي؛

اوس د هيواد په شمالي سيمو کي دده او دده د بدمرغو، مجرمو، بې اعتبار او يو د بل په ضد مؤتلفينو وجود د هغو مسلمانانو خوارکيانو لپاره زهر قاتل دي، هغلته قحطي، هغلته داسي زلزلې چي د تاريخونو په ياد نه دي، هغلته چور او تالان، هغلته ټول غمونه او کړاوونه دي؛ هغلته دي هيڅ خدمت او پالنه نه واي ، خو کاشکي چي مسلمانان خپلي خواري او غريبي ته وزګار واي ، کاشکي لاري خلاصي واي، کاشکي له غلو غدوي ، قاتل او زاني نه بې غمه واي، کاشکي واره، زاره او ځوانان يې جنګونو ته په زور ور نه څخه نه بيولاي او خوارانو خپله خواري ژړلاي؛

د شرمېدلو هڅو په لړ کي يې يو له روسيې سره داسي اړيکي دي چي ځانونه يې ورته حلقه بګوش غلامان کړي دي، د خپلي بقا او پيسو تر لاسه کولو لپاره د اسلام او هيواد دغه دښمن ته له هر څه نه تير دي، روسيه د رنګ شوي شوروي اتحاد په ځاي پاتي دي، د هغه ټول ملي او بين المللي امتيازونه تر لاسه کوي او افغانانو ته به هرو مرو د شل کلن جنګ او هيواد د ورانولو تاوان ورکوي که څه هم احمد شاه نا مسعود د شوروي اتحاد پخواني غلام دي مګر ددغو اسرارو پردې هغه وخت څيري شوي چي له کمونستانو وروسته د دوي بدمرغه پل د هيواد په پلازمينه کي کېښودل شو؛

همدارنګه د هيواد د ورانولو له نورو عاملينو لکه هند او نورو سره د دوي دوستانه اړيکي د دغو شرمېدلو هڅو لړۍ ده، ددغو رسوا هلو ځلو داستان ډېر اوږد دي مګر له اسرائيلو سره يې چي د پټو اړيکو پرده په دغو ورځو کي څيري شوه تر ټولو شرمېدلې او سر ټيټي هڅه ده، وايي چي : « سيلاب اخيستي هر بوټي ته لاس اچوي» رباني ډېرو بوټو ته لاس واچاوه مګر دغه بوټي او هڅه يې ډېره بدمرغه وختله او په شرموبي وشرماوه، که څه هم دي اوس شرم نه پېژني مګر په دغه کار سره يې پخپله نا متحده جبهه کي چاودېدونکي مواد ځاي په ځاي کړل چي ډېر ژر به يې درزوا وربدل شي او هم يې خپل کلک ملاتړي ايران په غوسه کړي دي، بروجردي سترګي ورباندي برګي کړي دي؛

اسرائيل پوازې د فلسطينيانو او عربو دښمن نه بلکي د ټولي نړۍ د مسلمانانو د ښمنان دي آن تر دې چي له ملګرو ملتونو نه هم - د خپل يار او بادار(امريکا) د مټ په زور - ياغي دي، پريکړو ته يې د يوې پيسې اعتبار هم نه ورکوي؛

رباني په دغه عمل سره له ټولي اسلامي نړۍ او ملګرو ملتونو سره خيانت کړي دي که دي نه شرمېږي نو اسلامي کانفرانس او ملګري ملتونه دي يې هرو مرو وشرموي چي د هغوي توهين يې کړي دي او که يې نه شرموي نو خپله بدمرغي ، جرمونه ، خيانتونه د شهيدانو کرامو، ديندارو هيوادوالو او اسلامي امت ازارو نه به يې آخر وشرموي.

اعاذ نا الله تعالي من خزي الدنيا والاخرة

تجربې که تماشې

پټې پاڼې
شهرت ننګيال

کله چي د هندوستان له نيمي وچي پيرنګيان ووتل نو په مياشت نيمه کي د سياسي ګوندونو شمير نژدې سلګونو ته ورسيد، دغه خبره د يوې انديښني په توګه د مهاتماګاندي او جواهر لال نهرو په وړاندي وسپړل شوه خو ګاندي جي په ډېر ډاډ ځواب ورکړ : هندوستانيانو نوي د آزادي خوند څکلي او د ګوندونو روان توپان هم د همدغه خوند زيږنده ده، لږ ډېر وروسته به دغه څپه کراره شي او ټول به ساړه شي چي همداسي وشول.

د جهاد په لومړي او دوهم کال د ګوندونو بازار دومره ګرم شو چي د پېښور په محدوده ساحه کي يې شمير له سلو هم و اوښت، نژدې چي د ګوندونو شوقيان او اماتور مبارزين د ګوند د نومونو له کاختي سره مخامخ شول، د ګوند جوړوني په دغه ګرمه مسابقه کي زه هم څو څو واره دعوت شوم، د ګوند ټول دفتر د ګوند د مشر د جمپر په جيبونو کي ؤ، يوه مشرا!! زه له خپل دفتر ارباب روډ نه راروان کړم او د کيسه خواني د يوې تنګي کوڅي په يوه تياره سماوار کي کيناستو، ما داسي ګڼله لکه د مافيا کوم پخته کار غړي چي برغمل نيولاي وم، په سماوار کي يې بيله مقدمي يوه وړوکي چاپي رساله راوايسته سرليك يې ؤ: جمعيت تبليغي عوامي افغانستان - ومې لوستله سر مې پرې خلاص نشو، په دې کي د سماوار شاګرد زموږ مخې ته د پاکستاني چاي خبر نه چاينکه کيښوده ، ده يو د پياله ما او بله ځان ته ډکه کړه - رساله مې بيا ولوستله بيا هم پرې ونه پوهيدم پخپله يې سوادي زهير شوم، هغه زما په سترګو کي احساس کړه چي همداسي ناپوه پاتي يم ويې ويل لکه چي پرې پوه نشوي، په زړه کي مي وګرځيدل چي ورته ووايم ولي نه، ډېر لوړ

هدف او ارمان مو په وړاندي دي، په بشپړه توګه ورسره موافق يم، موږ به په همدي کرښو د خپلي مبارزي نقشه جوړوو خو لامي پريکړه نه وه کړې چي ده راغبرګه کړه ! لږ مغلقه ليکل شوي په کور کي يې بيا وګوره ...

په هجرت کي د پيژنګلوو په زياتيدو او وخت په تيريدونو يو ګوندونو ته دعوت کيدم - د پېښور محيط او ګوندي حاکميت پوليسي بڼه لرله زه يوې پټي ويري په سر واخيستم چي آخر د ګوند جوړوني په پروسه کي زما کوم داسي کمال زده دي چي هر يو راته دام غوروي او دانه را مخې ته کوي، له همدې ځايه راسره پدي اړه يو پټ حساسيت او بدګوماني پيدا شوي ځکه خو اسد الله ساپي وايي چي ته د هر چاپي‌خودهيچاته‌يې.

خداي دي له شيخ عبدالله کمشنر سره ښه وکړي يوه ورځ يې بوتلې زه نه بلکي نور ډېر له دغه جنجال او سرخوږي خلاص کړو هغه مهال کمشنري په صدر کي وه، ده ټول ګوندونه او مشران راغوښتي وو- ټولو نوي او توکړي جامي اچولي وي په ځانونو يې ښې ګوتي وهلي وي او دي ته منتظر ؤ چي يو ښه زيري واوري.

شيخ عبدالله راغي په ډېره سړه سينه يې او وه نومونه واخيستل، لومړني نوم د سياف صاحب ؤ ورووستي را ته هير دي چي اووه پوره شول نورو ته يې وويل ځي پر خداي مو سپارم په مخه مو زيري ګلونه! پر خداي سپارلو ټولو يو بل ته وکتل يکسونه او ځادرونه يې راواخيستل او روان شول.

وروسته د اتحاديو بادراوالوت لومړني اتحاديه استاد رسول امين د ښوونکو په نوم اعلان کړه او لومړي غونډه يې په کبابيانو کي راوبلله خو حزب، جمعيت او اتحاد خپل برخې ور واستول او په هماغه لومړي غونډه کي يې هر څه تس نس کړل، د استاد امين هم چي لږ دمه جوړه شوه د ليکوالو د اتحاديي خبري يې راواخيستي او د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه يې جوړه کړه خو ځرنګه چي د ليکوالو مزاج پر عدم تشدد مبني دي اخواني

ګوندونو داسي ليکوال ونشواي موندلي چي د ښوونکو تجربه پرې تکرار کړي ځکه خو امين صاحب اتحاد يه هم له بدوسترګوژغورل‌شوه.

داسي نور ډېر بادونه او هغه هم ليونۍ بادونه په پېښور کي والوتل او غلي شول، وايي چي اوس په پېښور کي يو بله سيلي په چليدو ده ، ازمون صاحب پر فضل رحيم سيلي انتقاد وکړ چي سيلي تخلص د تأنيث علامه لري - دغه نوي سيلي د شوراګانو د جوړيدو سيلي ده، شورا مونث ده ځکه خوسيلي ښه اړخ ورسره لګوي.

هره ورځ د يوې نوي شورا ګل غوړيدلي وي، څو نوري سره يو ځاي شوي او بېرته سره بيلي شوي وي او پر يو بل يې د تورونو او انتقادونو غيشي ورخوشي کړي وي،د تفاهم شورا ، د قومونو د پيوستون شورا، اسلامي شورا د سوله غوښتونکو او د ملي وحدت د ليوالو افغانانو شورا او ...

شورا او شوروا ډېر نژدې لفظي تړون او پيوستون لري داسي ښکاري لکه د شوروا، او شورا د تړون شورا ؛ وايي چي د شورا خوند په شوروا کي دي پخوا به په شوراګانو کي شوروا وي و خوړل شوي او د هغې له هضم سره به هر څه هضم شول، خو اوس د شوروا ځاي پلو او کبابونو نيولي که نور څه لدغو شوراګانو جوړ نشي د څو تنو بريتونه خو به پکې غوړوي.

هغه بله ورځ د ښاغلي امان الله رسول له خولي يو خبر ؤ چي تفاهم شورا له خپلو مقصدونو څخه اوښتي ده ، تفاهم شورا وايي چي امان الله رسول يې اخراج کړي - له ده سره داسي افراد ؤ ځاي نيولي چي د افغانانو تر منځ بيلتون او تبعيض پيدا کوي- په هندوستان کي ښه ؤ په لږ وخت کي د ګوند جوړوني څپه د ګاندي جي له اټکل سره سم کراره شوه او ددغه شوق او هوس خوند ورك شو، خو زموږ په هيواد کي په شلو کلونو کي هم دغه نشه د چاله سرونو ونه وتله او لا ورځ په ورځ مخ په زياتيدو ده ، شاعر وايي:
شراب که کهنه شود نشه دګر دارد .

ښکاري چي د ګوندونو تجربې د اتحادونو او ائتلافو تجربې د شورا ګانو تجربې او خداي خبر د څه څه تجربې لا پاي ته نه دي رسيدلي،زموږ هيواد لکه لابراتوار داسي دي،د نړۍ د هر سياسي پوهځي انکشاف تجربې دلته کيږي، دا چي له دغو تجربو تر اوسه څه نتيجه اخيستل شوي که څنګه؟ د لابراتوار ماهرينو لا خو له پتهه نيولي، معلومه نه ده چي لدغه تجربو او ازميښتونو په څه اتوم بم راووځي که څه به بله بلا .

کورنی فقه

پرله پسي ۳۸

کور او کورنی ژوند

قاضي محمد حسن "حقيار"

رسول الله «ص» به تل د پراخه کور د غوښتلو دعا کوله او د خپلي ګناه د عفوي او د روزي د پراخوالي د دعا سره يو ځاي به يې د پراخه کور د غوښتلو دعا کوله اکثره به يې ويل چي « اللهم اغفرلي ذنبي و ...»

يعني : « اي خدايه زما ګناهونه راوبخښه، زما په کور کي پراخي راولي او زما په رزق کي برکت پيدا کړي ، .

يو چا ترې وپوښتل چي اي د خداي رسوله «ص» څه لامل دي چي اکثره وخت ته همدا يوه دعا کوي ؟ رسول الله «ص» ورته وفرمايل چي : « هل ترکن من شيئ» يعني آيا له دي دعا نه نور هم څه پاتي دي ؟ »

ځرنګه چي رسول الله «ص» پراخه کور د نيکمرغي نښه بولي او ډېر يې خوښوي همدا راز د ژوند د هري معاملي په څير د کور په نظافت او پاکوالي هم تاکيد کوي. او مسلمانان دي ته تشويقوي او هڅوي چي خپل کور پاك وساتي . رسول الله «ص» نظافت او پاکي د ايمان نيمه برخه بولي، نظافت د اسلام نښه او ستر شعار دي؛ نظافت او پاکي د مسلمان لپاره هغه ستره نښه ده چي دي پرې له کفر نه رابيليږي .

اسلام د هغو مذاهبو پر خلاف دي چي پليتي او چټلي عبادت او الله«ج» ته د نژديکت وسيله ګڼي اسلام نظافت عبادت او پاك سړي عابد بولي. رسول الله «ص» فرمايي : « ان الله طيب يحب الطيب ... » ترمذي يعني « الله خپله پاك دي او پاك شخص خوښوي نظيف دي نظافت خوښوي کريم دي سخاوت خوښوي بخښش کوونکي دي بخښش خوښوي نو د خپلو کورونو حويلي ګاني د انګړونه يا غولي پاك ساتي او له يهودو سره مشابهت مه کوئ»

له دي حديث څخه په ډاګه څرګنديږي چي په صدر اسلام کي به يهوديان ناپاکه ګرځيدل او رسول الله «ص» به خپل امت ته درس ورکاوه چي د يهودو په څير چټل او ناپاکه مه ګرځي که نه نو د هري ناروغي، خوله به هم درته خلاصه وي او د الله«ج» د نارضايي لپاره به مو هم زمينه برابره کړې وي. خو په اوسني وخت کي د مسلمانانو د غفلت او له دين نه د نا خبري په سبب نړدي دي چي خداي مکړه حالات بالکل بر عکس شي يعني نظافت او پاکي يهوديانو او عيسايانو ته وليږديږي او نا پاکي او بي نظافتي زمونږ د وخت غافلو مسلمانانو ته وليږديږي چي مسلمانان بايد ترې لږ عبرت واخلي.

عقوبت سرقت از دیدگاه شرع

فهیمه حکیم احمدزي

بعد از خلقت انسان در روي زمین مدت زمان معین کدام اثري از جرایم و جزا ها بمشاهده نمیرسد، اما براي اولین بار یکي از پسران آدم «ع» قابیل پسر دیگرش هابیل را بقتل رسانید و از آن زماني است که سلسله جرایم در روي کره زمین آغاز و تا به امروز این سلسله ادامه دارد. قبل از ظهور دین مقدس اسلام ، در سایر ادیان و عقاید مختلف دنیا در باره جرایم، عکس العمل هاي متفاوت از خود نشان میداند. سیستم منطقي و منظمي از مجازات براي انواع جرایم موجود نبود. مجرمین جرایم مختلف حسب دلخواه رئیس قبیله و یا اینکه کلان قوم مجازات میشدند. احیاناً براي مجرم یا هیچ جزا داده نمي شد و یا هم جزا ها بشکل نهایت بیرحمانه بالاي مجرمین تطبیق میشد. با ظهور دین مقدس اسلام سلسله اینوع خود سري ها در تطبیق مجازات اختتام یافته و بر اینکه عدالت در جامعه به بهترین شکل آن تطبیق شده باشد براي جرایم مختلف مجازات معین ، تعین و از صدر اسلام تابه امروز بالاي مجرمین قابل تطبیق است که این مجازات عبارتند از مجازات حدود ، قصاص، دیت و مجازات تعزیري . قابل تذکر است که مجازات حدود ، قصاص و دیت از نگاه شرعي معین بوده و«قاضي صلاحیت عفو، تخفیف و یا تعدیل اینوع مجازات را ندارد اما در مجازات تعزیري قاضي اینوع صلاحیت را دارا میباشد که جرم سرقت را از نگاه شرع شامل جرایم حدود بوده و مجازات آن در نظر شریعت اسلامي حد تعین گردیده است. ابتدا لازم است سرقت را از نظر شرع تعریف و بعداً به توضیح مطلب بپردازیم .

سرقت از نظر شریعت اسلامي عبارت است از گرفتن مال منقول و متقوم ملکیت غیر را طور خفیه بقدریکه در ان تحویل و اشتباه موجود نباشد.

براي فهم بیشتر در موضوع جرم سرقت ابتدا لازم است که عناصر عمومي جرایم را بیان و بعد به توضیح عناصر خصوصي جرم سرقت بپردازیم. از نظر شریعت اسلامي و قانون وضعي یك جرم زماني تحقق میابد که در آن عنصر مادي، عنصر قانوني و عنصر معنوي موجود باشد یعني اینکه فعل تشکیل کننده جرم خواه انجام فعل باشد یا ترك فعل. دوم موجودیت اینکه مکلف بودن شخص یعني شخصي عاقل، بالغ باشد، یعني قدرت بالقوه اوامر شرعي یا قانوني را داشته باشد در پهلوي عناصر عمومي جرایم هر جرم عناصر خاص خود را دارا میباشد که با تکمیل عناصر عمومي و خصوصي در هر جرم مجاز است بالاي مرتکب جرم قابل تطبیق است .

جرم سرقت از جمله جرایمي است که مجازات آن از نگاه شریعت اسلامي حد تعین گردیده است و بر اینکه جرم سرقت بطور کامل تحق یافته باشد و مجازات قطع ید بالاي سارق تطبیق گردد لازم است که شرایط ذیل در جرم سرقت موجود باشد.اول اخذ مال بطور خفیه دوم مال مسروقه ملکیت غیر باشد. سوم قصد جنایي در اخذ مال موجود باشد که بدون تحقق سه شرط فوق جرم سرقت مستلزم مجازات حد نمیباشد در صورتیکه مال در نگهداشت و حفاظت مال خود اهمال نموده باشد یا ذریعه حافظ مال خود را حفاظت نکرده باشد که این عدم توجه صاحب مال سارق را در طمع اخذ مال وادار و زمینه سرقت را براي سارق آماده میسازد.

در این چنین حالات شارع اهمال و تقصیر مجني علیه را در قسمت مجازات سارق دخیل دانسته و در نتیجه بالاي سارق مجازات قطع دست تطبیق نگردیده، بلکه سارق تعزیراً مجازات میگردد. رکناسایي در جرم سرقت و گرفتن مال مسروقه بطور خفیه و پنهاني میباشد. در صورتیکه مال بطور اجبار از مالك اخذ گردد در اینصورت جرم قطاع الطریقي بمیان آمده و در صورتیکه مال بدون خفیه و اجبار از مالك اخذ شود در آنصورت جرم اختلاس بمیان میآید که مرتکبین این جرایم تعزیراً مجازات میشوند. در حالاتیکه سارق مال را از یك محل محفوظ منزل به محل دیگر منزل جهت سرقت انتقال نموده باشد اما قبل از آنکه سارق در آن تصرف فعل نموده باشد دستگیر میگردد در این چنین حالات از نظر امام ابو حنیفه «رح» سارق مستوجب مجازات تعزیري است، زیرا مال مسروقه اگر چه از محل محفوظ خارج گردیده اما تحت تصرف فعلي سارق قرار نگرفته بلکه حیازت حکمي محسوب میگردد اما امام شافعي «رح» و امام مالك «رح» مجازات قطع دست را در حالات تحقق حیازت حکمي نیز لازم دانسته اند. در مرحله تفکر و تهیه وسایل جرم از نظر شرع و قانون قابل مجازات پنداشته نمیشود، هر چند مرتکبین چنین اعمال تا اندازه نظم عامه را نیز مختل نموده باشند، زیرا اصل در شریعت اسلامي اینست که مردم نباید بدون فراهم شدن یقین مواخذه شوند. در مورد شروع در جرم از نظر شرع و قانون باید گفت که مرتکبین جرایم در چنین مرحله مستوجب مجازات تعزیري اند زیرا که شرایط مکمل جرم تحقق نیافته است . در صورتیکه عناصر متشکله در جرم سرقت تکمیل گردد، در اینصورت مرتکبین چنین اعمال مستوجب مجازات قطع ید(دست) میباشند چنانچه خداوند«ج» میفرماید :

ترجمه : (مرد دزد و زن دزد دستهایشانرا ببرید که این جزاي اعمال ایشان است بخاطر مجازات عمل سرقت شان و این عذاب است که از طرف خداوند«ج» تعین شده است و خداوند«ج» غالب و با ص٤»

د ځواني عمر دې څه شو ؟!

داکتر باز محمد «سهادمن»

افتتاحيه : زه په ځان انتقاد کوم نه ستړي نشي .

لوستونکيو ورورو، نه خسته نشي ځکه زه په ځان انتقاد کوم او تا د ښه طبيب په څېر گورم .

هوا ډير وخت زه د خوب په مرض اخته وم په څلور ويشت ساعته کي چي به دولس ساعته ويده نه شوم ما به ويل چي نن مي هيڅ خوب نه دي کړي . د نن په څير مي ځان ته پام شو او له ځانه سره مي وويل : ته به نه پوهيږې دا به يو مرض وي او د مرض علاج په کار ده ډير ژر مي هڅې پيل کړي او داسي طبيب مي پيدا کړ چي ته بي ډير ښه پيژني هغه امام غزالي و او د کيمياي سعادت په کتاب کي بي داسي نسخه ليکلي وه ، که ته شپېته کاله عمر ولري او په څلورويشت ساعته کي دولس ساعته ويده شي، ديرش کاله عمر دي په خوب تير شو، پاتي ديرش کاله کي پنځلس کاله ووړکي وي او پنځلس کاله سپين ږيري ، د ځواني عمر دي څه شو ؟! اي بي غوره انسانه! »

څرنگه چي همدغي نسخي ته مي پيل وکړ خوب مي ډير کم شو مگر بل مشکل چي زه لرم هغه ته که ته طبيب شي بيا به زه هميش د ستا ښه هير نه کړم هيله ده چي زما مشکل ته ښه څير شي وروره! ماته اوس تر کار بيکاري ډير خوند راکوي. هيڅ مي زړه نه غواړي چي يو کار وکړم له هسدي ځايه ده چي خلك بلدينگونه لري او زه د ختو کور نه لرم . خلك په ښو لوکسو موټرونو کي گرځي زما په ترپو لينگو هميش درد وي او پلي گرځم . خلك رنگارنگ ميوي او طعامونه خوري زه له لوږي په لار نشم تلاي . خلك د سبا لپاره نوي پلانونه طرحه کوي زه د پرون له غمو ژاړم . له خلکو سره دا توان شته چي بل ته څه ورکړي او زه له نورو د يو څه غوښتونکي يم ...

راته طبيب شه علاج مي وکړه : داسي علاج مي وکړه چي زه د ستا علاج د هميش لپاره په ياد ولرم .

تعقیب هدف، اساس کار فرهنگی

پوهیالی لیلما «یما»

کار فرهنگي يا حرکت روشنفکرانه که به خاطر نجات و حفظ معنويت و دفاع از ارزشهاي اسلامي و فرهنگي صورت ميگيرد، ابعاد زيادي را داراست که سخن گفتن در مورد همه، آنها در يك مقاله کوتاه امکانپذير نيست. پس با همين عنوان مشخص نموديم که ما در مقاله، فعلي از هدف فعاليت فرهنگي و روشنفکري صحبت مينماييم.

افرادي که از روي آگاهي ، مسووليت و علاقه و ايمان به کار فرهنگي ميپردازند، در همان نخستين گامهايي که بر ميدارند، هدف خويش را مشخص مينمايند، يعني تشخيص هدف، نهاد و جوهر فعاليت فرهنگي را تشکيل ميدهد، که براي تحقق آن بايد در مقابل هرگونه مانع و خللي مقاومت صورت گيرد.

هدف اولي و اساسي که براي فرد فرهنگي و روشنفکر مطرح است، همانا اجراي رسالت اسلامي و انساني وي در پيشگاه خداوند است. هرگاه همين هدف به صورت آگاهانه درك گردد، اهداف ديگري که مبني بر همين هدف اساسي در نظر آورده ميشود، بدون اشکال تحقق ميبايد. يعني فرد فرهنگي هنگامي که دانست هرگونه حرکتش براي خوشنودي و خواست حق صورت ميپذيرد ، تمام قيد و بند ها ، دشواريها، ممانعت ها و شکنجه هاي جسمي و روحي برايش گوارا ميگردد و آنگاه است که وي از گفتن حق و حقيقت هراس نميکند، صداقت و راستي اش را از دست نميدهد، در اثر مخالفتها و تنبيهات ديگران نسبت به کارش بي ايمان نميگردد، در بدل زبوني و اسارت، آزاده گي اش را از کف نميدهد، با اعتماد به نفس کارش را پيش ميبرد، و هرگاه اعتماد ديگران نسبت به کارش ضعيف و اندك گردد، وي باز هم از تعقيب هدفش نميگذرد.

حرکت فرهنگي و فعاليت روشنفکرانه زماني با دشواريهاي بيشتري مواجه ميگردد که نظامهاي مشخص جامعه را فساد، انحطاط و پراگنده گي فرا گرفته باشد، يعني نه نظام اجتماعي از وحدت و آرامشي برخوردار باشد، نه نظام اقتصادي بر اساس عدالت و تعادل فعاليت نمايد، نه نظام سياسي از حقوق و نياز هاي مردم حمايت کند و نه هم نظام فرهنگي بتواند خود آگاهي، جامعه آگاهي، آزاده گي، انسانيت، صداقت، عدالت و ديگر ارزشهاي معنوي را ميان افراد پخش نمايد . در چنين موقعيتي است که فرد فرهنگي تنها خود را وابسته نظام فرهنگي ندانسته بلکه مسووليت دارد تا تمام جوانب کارش را در رابطه با خصايص و اوضاع فعلي نظامهاي ديگر بسنجد. وي که شاهد وضع نابسامان و منحط جامعه است ، و اين را نيز ميداند که اين حالت بايد اصلاح پذيرفته و به وضع مطلوب در آيد، سپس به اين بسنده نمي نمايد تا با بي اعتنايي نسبت به اوضاع عمومي جامعه به صورت غير آگاهانه از فعاليت فرهنگي دم زند و با گفتن چند حرف در باره ميراث فرهنگي گذشته و يا نوشتن يك يا چند اثر يا مطلب، که هيچيك از اين کارهايش روشنگر وضع موجود نيست و باعث دگرگوني و تغيير آن نميشود، مسووليتش را انجام يافته فکر کند؛ زيرا اين کار ها علاوه بر آنکه تحقق هدفش را دشوار ميسازد، او را بيشتر در بي هدفي، واماندگي و گمراهي قرار ميدهد .

فشرده سخن اينکه روشنفکران و فرهنگيان حقيقي به کار فرهنگي بخاطر معنويت و نجات انسان از قيد و بند هايي که مانع تکاملش ميگردد واقعاً علاقمند اند و خود را عامل نخستين آن ميدانند، پس فعاليت آنها نه به خاطر ارضاي خود خواهي؛ نه به خاطر نفع مادي و کسب شهرت و نه هم به خاطر گذراندن وقت است؛ بلکه در هر يك از عرصه هاي جامعه هر نوع حرکتي که از آنها سر زند، تمام جوانب آن سنجيده شده و هدف راستين در قبال دارد که بالاخره همين اهداف کوچك و فرعي به همان هدف اصلي و اولي که در آغاز گفتيم منتهي ميگردد که آن بجا آوردن حق بنده گي در پيشگاه خداوند است .

په زړه پورې خاطرات

سيف الرحمن اشنا

يوه ورځ د پخواني جمهور رئيس « د ملي وحدت سمبول» په باب ماوويل ، چي د چار اسياب نه د دوامداره توغنديو باران هغه ته د خپل معنويت د پياوړتيا په خاطر دا فرصت ورکړ چي د جمهوري رياست زياته دوره د اوږد رياضت په خاطر د (ډکو په غار) کي تيره کړي، امکان لري په دغه رياضت کي به بي د گناه پيټي لږ څه سپك شوي وي، ما په دي وخت کي ځما يو ساده دوست هزاره چي کلبي حين نوم بي ؤ و ويل چي زه په هغه پسي ډير خواشيني يم، ما اوريدلي چي ځني خلك موسيقي د روح غذا بولي، زه ددينه اضافه په نور څه نه پوهيږم چي موسيقي به د روح غذا وي او که نه ؟ ما خو زمونږ يوه لغړه موسيقي د نبوره ، لغړه په دي مانا چي د هغي سره د موسيقي نور سامان الاتو ته ضرورت نشته، کله به چي ده بيانيه ورکوله نو زه په دي فکر وم چي ده د خواږه اواز او د نبوري تر منځ دومره توپير نشته ، ده چي به خپل سياسي افکار په دغي د نبوره کي منعکس کول ما به ترينه ډير لذت اخسته ما ورته وويل چي : دا يو اهانت دي داسي خبري مه کوه ده وويل چي هو دغه خاطرات يو امانت دي ځما به دده درناوي په خاطر د تل لپاره په ياد وي ، هغه يو بي سواده سړي و د اهانت او امانت په توپير نه پوهيده. که څه هم چي تشبيه بي يو شاعرانه تصوير و نه ورته وو خو بيا هم ما خپله توصيه يو ځل بيا ده ته تکرار کړه .

په هر صورت ، هغه به د خپل مطبوعاتي دفتر له لاري د باختر اطلاعاتي آژانس ته هدايت ورکاوه چي ما په خبرونو کي د پروفيسر په نامه مه يادوي، د ا نوم غلط دي، پروفيسور ليکي په رښتيا هم چي پروفيسور ؤ مثلاً ده خپلو ملگرو ته لارښوونه کړي وه چي تاسو مجاهدين ياست په فيٌ سبيل الله جهاد کي مو ډيري قرباني ورکري دي ، تاسو ته د هر څه اجازت شته ، خو خپل چور او چپاول او تالان غلا مه بولي، ځکه عوام ورته غلا ، چور او چپاول وايي ، خو ما له هغه کتاب نه چي ځما سره شته ستاسو ددغو اعمالو له پاره جائز نوم «غنيمت» خوښ کړ کولي شي د هيواد ملي او شخصي شتمني ټوله غنيمت کړي ، چا چي مهاجرت نه وي کړي د مال او دارايي غنيمت بي کوم ممانعت نه لري.

هغوي په ډيري خوشحالي همداسي وکړل او ټولي ملي او انفرادي شتمني بي غنيمت کړي. خو د بده مرغه لکه د هغه يو پوه خبره چي «نهنگ څومره غټيږي تنده بي لا زياتيږي » دده ملگري هم داسي وو د هر څه د غنيمت سره به بي تنده لازياتيدله. په ديني او سياسي چارو کي دده سلا کار بل «متخصص» پروفيسر د ملي وحدت سمبول پروفيسور ته مشوره ورکري وه چي دي دومره ځو پوريزه ودانيو او فابريکو د کابل ښکلي او طبيعي څيره بدل کړي ده ، جگو ودانيو خو ځمکه نه ده نيولي فضايي نيولي ده بايد ويجاړي شي، او د پل خشتي د تاريخي جوماتونو په گډون چي ويل کيږي د اصحابو کرامو له خوايي د بنسټ ډيره اينبودل شوي ټول جوماتونه قبلي ته سم نه دي جوړ شوي په دي کم او زيات څوارلس سوه کلونو کي چي زمونږ هيواد ته اسلام راغلي دي يو ديني عالم په دي نه پوهيده چي دا جوماتونه ويجاړ او قبلي ته سم بي اباد کړي وايي نو دا کار هم بايد په پام کي ونيول شي.

د ملي وحدت سمبول پروفيسور صاحب ددي هدف په خاطر د کور ويجاړولو او ښارويجا ړولو د وزير په حيث په غوڅه توگه بي سواده د بزکشي يو ازبيك پهلوان وټاکه، په لاسليك نه پوهيده په کڅوره کي به بي مهر گرزاوه ما د جنگ «ناپليون» خو داسي مشورو ته د تل لپاره سترگي په لار ؤ د تلويزيون له غونډي نه بي ورووستي ماډل دزني ويجاړونکي وسلي د کابل ښار په تيره بيا لويديځ او جنوب لويديځ لور ته اړم کړي او هر څه بي د خاورو سره خاور بکړل، دغه د جنت په شان سيمه همدا اوس د يوي وحشتناکي دښتي او يا د يو ځنگل د ډارونکو غارونو په شان ده .

دغه سيمي او د زړو مکروريانو د نورو سيمو په گډون همدا اوس ښکاره معلوميږي چي د تلويزيون د غونډي هوايي ډگر ، بادام باغ او خيرخاني د لوري نه ويشتل شوي دي . خو د پروفيسور مليشو ته اجازه وه چي اسمان خراشه وداني جوړي کړي ، همدا اوس بي بيلگي ډيري زياتي ليدل کيږي ، لکه په انصاري واټ او داسي نورو ځايونو کي. نو ماته به کله کله د فارسي د اسروکي را په ياد شو چي : جنگ تو صلح است و صلح تو جنگ» د هغه جنگياليو د دوي په اصطلاح دغه شان زيات «بتان» رانسکور کړل. او ده به ويل چي اصغر جهاد اوس پاي ته رسيدلي، اکبر جهاد پيل شويدي او دا د ورووستي جهاد يو جزء دي.

د سياست په برخه کي د ملي وحدت سمبول پروفيسور رول هم لکه د کنك په شان ډير ماهرانه ؤ، مثلاً ده به ويل چي که د منلو ور يو ميکانيزم پيداشي نوزه د مخالفينو سره ډيالوگ ته حاضر يم دغه ميکانيزم دوتنه نا، هغه سندره وه چي پاي بي نه درلوده، دغه راز ده به مخالفينو ته نصيحت کاوه چي په يوه «محور» راټول شي، دغه محور په خپله پروفيسور ؤ. د اقتصاد په برخه کي بي پوهه ديته څرگنده وه چي د جنگ ناپليون سره بي د زمردو او لاجوردو په تجارت کي په لکهاو پاکستاني کلداري په دوران کي اچولي وي چي بيابي ددغه ځاي د يو بل برخه وال سره د څلويښت زره کلدارو په باب اختلاف او دعوه پيدا شوه ، نه پوهيږم چي بيا څه وشو .

په بهرنيو برسونو، د طب په انستيتوت ، سياسي نمايندگيو کي ټول پخواني بي سواده او اوسني ديپلوم او بي تحصيله يافته او هغه کسان چي ده ته دده ملگرو او گوند نه منسوب وو. د سولي له امتحان نه ورورسته بي زيات شمير بي تحصيله ملگرو د ليسانس ديپلومونه تر لاسه کړل. خلك وږي وو خو وزارتونه په مهمان خانو بدل شوي وو او د ماموريتو حاضري به د خيرخاني په جوماتونو او کانتينرونو کي لاسليك کيده، دده پلازمينه دډکو غار ؤ چي رياضت استفاده بي هم ترينه کوله کله چي جواليانو دريورانو او نورو کسبگرو نه په جوړه شوي په اصطلاح د اهل حل و عقد شوراکي ځان د جمهور رئيس په توگه وټاکه نو سټيج ته ودريد نو دي د ملت دښمن په ډيره سپين سترگي سره وويل : الحمد لله اما بعد :

د خوشحالي خبره ده چي د جهاد له برکته له دولتمو پيريو وروسته دا دي قدرت اوس ملت ته انتقال شوي .

د نړۍ دوهم اوږد پل د لسو کلونو په موده کې جوړ شو

د دنمارك هيواد د اتلسو کيلو مترو په اوږدوالي يو پل په رسمي توگه پرانيست چي په روانه پيړۍ کي ډيره ستره دنمارکي پروژه بلل کيږي .

دغه پل د سجالند ټاپوچي د هيواد مرکز کوپن هاگن هم پکي دي د فينلد ټاپو سره نښلوي چي د اروپاو چي ته لاره نږدي کوي .

د دنمارك دويمه ملکه مارگيرت او ددغه هيواد شهزاده هزيك لومړني کسان وه چي له دغه پله نه تير شول.

دغه پل دنمارك د مروجه پيسو د نږدي نهه ويشتو مليارده کرونو په لگښت چي د څلور اعشاريه دوو مليارده دالرو معادل کيږي په لسوکلونو کي جوړ شوي دي .

دغه پل چي په ختيځه برخه کي يې د يو اعشاريه شپږ کيلو مترو په واټن په هواکي بند او يا له هوايي کيبلونو سره تړل شوي دي په اروپا کي د ير ستر او په نړۍ کي دويم اوږد پل دي.

له دغه اتلس کيلو متري پله نه په يوه ساعت کي د يو سلو لسو کيلو مترو په چټکتيا يواځي په اتو دقيقو کي سري تيريداي شي په داسي حال کي چي پخوا دي ته ارتيا وه چي دغه واټن د بيړي په واسطه لر تر لره په پنځه اويا دقيقو کي ووهل شي .

د اروپا ددغي ستري پروژې د جوړولو په بهير کي نهه تنه کارگران لمنځه تللي دي دغه پل د دنمارك د ختيځو او لويديځو برخو تر منځ د ترافيکو بهير په سلو کي ديرش لوړوي.

له دغه پله نه د تيريدواجوره د دري ديرشو دالرو معادل دوه سوه حلويښت کرونه ده چي د بيړي د حق العبور دا جوړي د دري سوو کرونو په پرتله ډيره ټيټه ده .

د هیواد هوایي ډګرونه په عصري ...

د اریانا افغان هوایي شرکت رئیس محترم حافظ محمد یونس د شوي پروتوکول د جزئیاتو د څرنګوالي په باب وویل دغه پروتوکول باید اته او یا نه کاله مخکي لاسلیك شوي واي او کار یي پیل شوي واي اوس د افغانستان اسلامي امارت له هیواد والو سره د مرستي په مقصد ددغه پروتوکول د لاسلیك کولو لپاره پریکړه وکړه چي په نتیجه کي به یي د آریانا افغان هوایي شرکت د الوتکو او د هغو نورو الوتکو لپاره لازمي اسانتیاوي برابري شي چي د افغانستان له فضا نه تیریږي.

ددغي پروژي مالي لګښت د هغو الوتکو د هوایي تکس له عوایدو نه ورکول کیږي چي د افغانستان له فضا نه تیریږي او ددغه پروتوکول عملي کار په نږدي راتلونکي کي پیل کیږي چي په دریو پړاونو کي به بشپړ شي.

په لومړي پړاوکي له مرکزونو سره د الوتکو د ارتباط د تأمین د مجهزو دستګاوو درول په دویم پړاو کي د الوتکو په لارښوونه او په ښکته کیدو او پورته کیدو کي د اسانتیاو برابرول او د قرار داد په دریم یا بشپړتیایي پړاو کي د رنوي د کرښي د بیا ورتیا او د هغي د روښانولو په شان د افغانستان د اسلامي امارت د هوایي ډګرونو د اړتیا وړ کول شامل دي چي ددي کار په تحقق سره د هیواد هوایي ډګرونه په مدرنو وسایلو سره سمبالیږي او د آریانا افغان هوایي شرکت الوتکي کولي شي شپه او ورځ خپلو الوتنو ته دوام ورکړي او هیواد والو ته د خدمت جوګه شي.

ددغه تړون هر اړخیز پړاو به شپږمیاشتني وخت ونیسي او دغه راز د آریانا افغان هوایي شرکت د هیوادوالو د اړتیا د لري کولو په خاطر په پام کي لري د مسافر وړلو دوو الوتکو په پیرودني سره د خپلو کورنیو الوتنو کرښي هم احیا او پراخي کړي چي د افغانستان د اسلامي امارت د مسوولو مراجعو دغه اقدامات د بیړنیو اړتیاو په لري کولو کي د هیواد والو د هیلو سبب او د هیواد د بیا جوړوني او د زماني د سترو اړتیاو او نیمګړتیاو د لري کولو په لاره کي یو عملي ګام دي.

څرنګه چي تیر رژیمونه په بیت المال باندي په مزو چړچو او د خپلو شخصي جیبونو په ډکولو بوخت و هیڅکله یي په دغه شان بنسټیزو او اساسي اقداماتو چي د ټولني او زماني غوښتنه ده لاس پوري نه کړ او په هره طرحه کي چي د دوي د شخصي ګټي متصوري نه وي موافقه یي ورسره نه کوله که نه په دي اندازه په ستونزي موجودي نه وي.

په مقابل کي د افغانستان د اسلامي امارت چارواکي ټول په دي لټه کي دي چي په هغو ستونزو او مشکلاتو باندي بریالي شي چي له تیرو رژیمونو نه په میراث پاتي دي او د هغو له لمنځه وړلو باندي عملي اقدام وکړي چي له دي جملي نه کولي شو د نړیوال هوایي چلند له اتحادیي سره د همکاري د پروتوکول د لاسلیك یادونه وکړو.

اسرائیلو سره د رباني له ...

د بي بي سي خبریال په خپل راپور کي وایي چي: د رباني په دولت کي دوستم او مسعود هم شته چي له اسرائیلو سره هیڅ ډول کینه او دښمني نه لري.

با خانواده هاي بي بضاعت ...

تثبیت مستحقین از دیپوي ریاست عشر و ذکات ولایت لغمان به مستحقین توزیع گردید.

سلسله مسابقات انتخاباتي فتبال بين تيم هاي کابل (الف) و کابل (ب) ادامه دارد

در مسابقات انتخاباتي فتبال کابل (الف) و کابل (ب) تیم پامیر سه مقابل صفر بر تیم روستا غالب و تیم میوند یك مقابل یك با تیم حریت مساوي ، همچنان تیم اتحاد صفر مقابل صفر با تیم سره میاشت مساوي گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد مسابقات انتخاباتي فتبال کابل (الف) کابل (ب) که به اساس پلان و پروګرام مرتبه ریاست عمومي تربیت بدني و سپورت امارت اسلامي بین دوازده تیم شهر کابل در ستدیوم ورزشي کابل آغاز گردیده و تا اکنون چنین نتایج بدست آمده است.

تیم فتبال پامیر سه مقابل صفر بر تیم فتبال روستا غالب تیم فتبال میوند یك مقابل یك با تیم فتبال حریت مساوي و تیم فتبال اتحاد صفر مقابل صفر با تیم فتبال سره میاشت مساوي شناخته شد.

سلسله این مسابقات همه روزه از ساعت پنج عصر در ستدیوم ورزشي کابل ادامه دارد.

عقوبت سرقت از دیدگاه ...

حکمت است)

علت اینکه در جرم سرقت جزاي قطع دست تعین گردیده است اینست که سارق به این منظور به جرم سرقت مبادرت میورزد که آنچه را خود حلال بدست اورده بسنده ندانسته و میخواهد از طریق حرام مال غیر را تحت ملکیت خود در آورد، بناً شریعت اسلامي به منظور جلوگیري از این بیعدالتي قطع ید را تعین نموده است تا باشد سارق از این عمل دست کشیده و یا اینکه قبل از آغاز عمل سرقت از این کار منصرف شود.

چنانچه قبل از اسلام در مکه ، مدینه و نواحي آن چنان وحشت ، چور و چپاول سرقت و تجاوز به حقوق دیگران وجود داشت که نظیر آن در کمتر کشوري دیده میشد اما با ظهور دین مقدس اسلام و تطبیق حدود شرعي نظم، امنیت و عدالت در آنکشور تامین و زمینه ارتکاب جرایم در آنجا فعلاً بکلي مرفوع گردیده است .

د سپین زر د تصدي خبرتیا

د کندز د سپین زر تصدي د خپلو صنعتي فابریکو مربوط د جن و پرس ، تیل ایستلو، غوړ د تولید، صابون جوړولو ، عمومي بریښنا، د ماشین آلاتو د تخنیك، او د اوروړني په برخو کي تکړه انجنیرانو او ماهرو او تجربه لرونکو تخنیکرانو ته اړتیا لري .

هیله وال کولي شي په کابل کي د محمد جانخان په واټ کي د سپین زر هوټل د ارتباط عمومي آمریت ته ورشي.

د سرپرستي شورا رئیس د ...

موضوعګانو په باب خبري اتري وکړي او په دي باب به لازم تصمیمونه ونیول شي.

خبر زیاتوي د سرپرستي شورا له رئیس محترم ملا محمد رباني سره د کابل په وابي ډګر کي د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د کورنیو چارو وزارت سرپرست محترم ملا خیر الله خیرخواه د مالیي وزارت سرپرست محترم ملا حاجي محمد احمدي د اداري چارو د عمومي ریاست مرستیال محترم مولوي محمد سلیمان ، د سوداګري وزارت معین محترم مولوي فضل محمد فیضان او د افغانستان د اسلامي امارت یو شمیر نورو مقاماتو مخه ښه وکړه .

د سرپرستي شورا د رئیس د ملګري هیئت په ترکیب کي د شهیدانو او مهاجرینو د چارو وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي عبدالرقیب ، د پلان وزارت سرپرست محترم قاري دین محمد حنیف د اوبو او بریښنا وزارت سرپرست محترم ملا محمد عیسي اخند د بهرنیو چارو وزارت معین محترم مولوي سید محمد حقاني او محترم الحاج ملا عبدالسلام اخند شامل دي.

یك حمله وسیع ملیشه ها در ...

متحمل شده مورال رزمي آنان تضعیف قابل ملاحظه یي یافته است .

طبق یك خبر دیگر محترم ملا امیر خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور از خطوط مقدم جبهه و سنګر هاي مجاهدین در ولایت بغلان باز دید بعمل آورد در این بازدید ضمن آنکه محترم ملا امیر خان متقي از شهامت و پایمردي مجاهدین اظهار سپاسګذاري نمود آنان را به انجام وظایف صادقانه سنګین و خطیر شان در امر حراست از امنیت جان و مال مردم آن مناطق متوجه ساخته قوماندانان و مجاهدین در این راستا وعده سپردند تا با از خود ګذري و پایمردي وظایف شانرا انجام دهند.

در ترکیه تظاهرات شدیدي ...

برخورد صد ها تن مجروح گردیدند؛ هکذا پولیس به اتهام قضیه صد ها تن دیگر را نیز بازداشت نمود.

روسي بوټکي هلیکوپټري ...

اسلامي امارت مخالفینو ته وسلي او جنګي مهمات رسوي. یو عیني شاهد وایي پخپله یي په سترګو ولیدل چي دغه هلیکوپټرونه په روسي مارك او پیلوټانو سره وسلي او مهمات لیږدوي.

دغه راز دغه عیني شاهد هغه ایراني افسر هم لیدلي دي چي په اندړه کي د تخار ولایت تنکیو ځوانانو ته نظامي تعلیمات ورکوي ایراني افسران چي په ایراني پوځي یونیفورم سمبال دي تنکیو ځوانانو ته له کلاشینکوفونه د استفادي لاري چاري زده کوي او ایراني کلاشینکوفونه ورباندي ویشي.

از چگونگي کار و تولید ...

انسجام فعالیت هاي کارګران فابریکات تولیدي هیأت فني و مسلکي وزارت معادن و صنایع تحت سرپرستي محترم قاضي محمد حسن حقیار رئیس نساجي کابل از فابریکات بوت و صابون سازي افغان صنایع در منطقه پارکهاي صنعتي دیدن نموده چګونګي کار ها و فعالیت هاي آن فابریکات را مورد ارزیابي قرار دادند کار هیأت متذکره دوام دارد.

سنګ تهداب مسجد جامع ...

طبقه از بودجه امارت اسلامي اعمار میګردد ګنجایش دو هزار و پنجصد تن نماز ګذار را در یك وقت دارا میباشد .

طبق یك خبر دیګر شبکه ابرساني ولایت کندز مجدداً احیا و طي مراسمي افتتاح و مورد استفاده قرار ګرفت .

شبکه متذکره که از مدت ۳ سال بدین سو از فعالیت باز مانده بود از بودجه شاروالي ولایت کندز و به اثر سعي و تلاش انجنیران و کارمندان شاروالي آنولایت مجدداً فعال و به بهره برداري سپرده شد.

شبکه مذکور قدرت بالا نمودن ۱۳ انچ آب را دارا بوده و از اب آن ٤٥ فامیل استفاده مینماید.

در محفلي که به همین مناسبت دایر ګردیده بود محترم الحاج محمد عارف خان والي ولایت کندز در رابطه به احیاي ایجاد همچو پروژه هاي عام المنفعه در کشور صحبت نموده از توجهات امارت اسلامي افغانستان در جهت احیا و باز سازي دو باره کشور و بالاخص ولایت کندز اظهار شکران نمود .

آب آشامیدني صحي ...

ننګرهار مستفید ګردیدند.

این مطلب را محترم مولوي عبدالوهاب رئیس آبرساني ولایت ننګرهار به آژانس اطلاعاتي باختر اظهار نموده ګفت که در طي سال ګذشته به تعداد ۱۵۰ شبکه آب رساني که قبلاً تخریب ګردیده بود دو باره ترمیم و مورد استفاده قرار ګرفت و به اثر توجه منسوبین ریاست آبرساني آن ولایت و همکاري سازمان صحي جهان کاریز نمبر یك ولایت ننګرهار که قبلاً به اثر ریزش باران و بي توجهي مسوولین رژیم ګذشته تخریب ګردیده بود.

دو باره ترمیم و یا کاري ګردید.

خبر مي افزاید در طول سال ګذشته مبلغ یکصدو چهل و هشت ملیون و پنجصد و سي و هشت هزار افغاني از درك محصول نل هاي آب عاید امارت اسلامي ګردیده و هم اکنون بیش از پنجهزار و پنجصد نل آب فعال آب آشامیدني فعال در ولایت ننګرهار موجود میباشد.

تیم والیبال سره میاشت ...

والیبال کلپ هاي آزاد و فوسسات سپورتي شهر کابل در جمنازیوم مدرسه اماني راه اندازي ګردیده بود تیم والیبال سره میاشت حایز مقام اول و برنده کپ قهرماني شناخته شد . هکذا در نتیجه این مسابقات، تیم والیبال عبدالمتین مومن حایز مقام دوم و برنده کپ مقام دومي و تیم والیبال پوهنتون کابل حایز مقام سوم و برنده کپ مقام سومي ګردیدند.

در اخیر مسابقات کپ ها، دیپلوم ها و جوایز نقدي توسط محترم ملا عبدالشکور مطمئن رئیس عمومي تربیت بدني و سپورت براي عده از ورزشکاران ممتاز توزیع ګردید.

یادونه

ښاغلي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپکځلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د شریعت تبصره

دور جدید تلاش هاي صلحجویانه بروجردي !!

اخیراً بروجردي نماینده خاص ایران براي افغانستان باردیګر به مزار شریف رسیده و هدف سفر خود را آغاز دور جدید تلاش هاي صلحجویانه ایران در قبال مسئله افغانستان وانمود ساخته است . دولت ایران با فرستادن بروجردي به مزار شریف و بامیان این چندمین بار است که اعلام میدارد خواهان هرچه زودتر حل معضلات جاري و خاموشي آتش جنګ در افغانستان است ګرچه در ظاهر امر این تلاش ها و اظهارات دولتمردان ایراني اکنون همچو عادات همیشګي شان یك عادت پنداشته شده و چندان مهم نمي باشد؛ اما از دو جهت تپ و تلاش جدید بروجردي قابل غور و تحقیق میباشد : نخست اینکه دور جدید تلاش هاي بروجردي فوراً متعاقب افشاء اسراري آغاز یافت که از روابط سري رباني به اصطلاح رئیس جمهور حکومت ملیشه ها با اسرائیل حکایت میکرد و مطابق اخبار وسایل ارتباط همګاني بین المللي هیأت وزارت خارجه اسرائیل با شخص رباني ملاقات داشته و هیأتي هم از جانب رئیس صاحب جمهورا! به اسرائیل مخفیانه سفر کرده است . نو آوريْ دوم که در اظهارات جدید بروجردي به نظر میرسد همانا اراده موصوف به ملاقات با نمایندګان امارت اسلامي افغانستان و دعوت هیأت امارت اسلامي افغانستان در نشست هاي احتمالي صلحجویانه در آینده میباشد .

دولت جمهوري اسلامي ایران که از ابتداي قیامش دشمني با امریکا و مخالفت با موجودیت اسرائیل در نقشه سیاسي جهان را از اولویت ها و اساسات پالیسي خارجي خویش اعلام نموده و موجودیت دولت اسرائیل را منحیث یك خطر جدي براي خود و جهان اسلام تلقي میکند با اطلاع از ارتباطات مخفي قبلي و بالاخره علني اخیر ائتلاف شمال افغانستان با دولت یهودیان وارد مرحله حساس و خطرناك سیاسي ګردیده و بر فراز پرتګاهي قرار ګرفته که اګر از ائتلاف ملیشه ها به حمایت خود ادامه بدهد در حالیکه رئیس ائتلاف مذکور به دولت یهودي اسرائیل میلان و وابسته ګي نشان میدهد ، پرستیژ و تشخص دولت ایران منحیث پیرو اصیل خط خمیني لکه دار ګردیده و احتمال میرود که به زود در داخل ایران توسط رهروان اصیل امام خمیني و حزب جمهوري اسلامي به سقوط مواجه ګردیده و در خارج از مرز هاي ایران تحریك هاي شیعه و با منجمله تحریك هاي اسلامي اخوانیانه و جهاني که مصروف جهاد و مبارزه بر علیه کفر جهاني خصوصاً اسرائیل اند از دولت کنوني ایران نا راض ګردیده و خیال ها و پلانهاي جهان شمول وُ نظریه صدور انقلاب اسلامي ایران به بیرون ازسرحدات آن کشور محال خواهد ګردید و اګر سردمداران ایراني نخواهند که با حمایت از وابسته ګان اسرائیل در منطقه (رباني و ائتلافیانش) دشمني ملت خود و نارضایتي جهان اسلام را کسب کند ؛ مجبور است تا بطور عاجل بیزاري و عدم حمایت خود را از جبهه ائتلافي ملیشه هاي شمال افغانستان اعلام داشته و ارتباطات ائتلاف را با اسرائیل رسماً محکوم نماید که این کار نیز براي ایرانیان مشکلات در قبال دارد : زیرا دولت ایران مؤلد اصلي ګروه شیعه وحدت و اکمال کننده دیرین ائتلاف شمال است که مصارف ګزافي را در این راستا متحمل شده است و هیچګاه برایش پسندیده نخواهد بود که تا همه کشت کرده هاي خود را در شمال افغانستان به باد فنا بدهد و شاید امید ایران مبني بر آغاز دور جدید مذاکرات غرض اعاده صلح در افغانستان و اشتراك هیأت امارت اسلامي افغانستان در آن به همین منظور باشد تا هر چه زود تر شرایطي را در افغانستان مساعد نماید که هم جلو دست درازي هاي اسرائیل را در منطقه ګرفته باشد و هم یاران ائتلافي شان دست خالي و شرمسار در میدان نمانند : اما اینکار امکان نخواهد داشت زیرا موقف امارت اسلامي افغانستان هیچګاه اجازه نخواهد داد تا با ائتلافي که بر علاوه پابوسي روسیه این دشمن دیرین ملت ما ، اکنون به کاسه لیسي اسرائیل صهیونست آغاز نموده و مطابق به خواسته ها و پلان هاي ملحدین روسي و صهیونیستان اسرائیلي آینده خویش را در افغانستان ترسیم میکنند بر سر هیچ موضوعي به نتیجه و تفاهم برسد زیرا ائتلاف شمال بر علاوه جنایات قبلي و خیانتي که از سبب پذیرفتن حلقه، غلامي روسها لکه، ننګیني را در تاریخ جهاد و مبارزات ملت مجاهد افغان متحمل شده اند اکنون به خیانت بزرګتر از آن که خیانت به همه، جهان اسلام و توهین به خواسته هاي امت اسلامي از باعث استقرار روابط دیپلوماتیك و مناسبات مخفي با دولت صهیونیست اسرائیل است دست زده است بناً براي بروجردي خیلي مشکل و حتي نا ممکن خواهد بود که بتواند کاري را در زمینه به پیش برد . اګر بروجردي و ایران واقعاً مطابق به اساسات دین مقدس اسلام پالیسي اختیار نموده اند باید دوستي و دشمني شان را با جهانیان بر اساس الحب في الله والبغض في الله استوار ساخته و بدون توجه به معاملات و مصالح سیاسي علناً و صراحتاً از مسلمانان جهان و حرکات هاي واقعي اسلامي حمایت خویش را اعلام نموده و امارت اسلامي افغانستان را که پیرو واقعي اسلام و وارث حقیقي جهاد افتخار آفرین افغانستان است به رسمیت شناخته و از ائتلاف ملیشه ها که ایادي و وابسته ګان دو دشمن بزرګ اسلام (روس و اسرائیل) اند عملاً دوري جسته تا باشد که دو حکومت اسلامي افغانستان و ایران دست به دست هم داده جلو دست درازي و اسلام دشمني روسهاي ملحد و اسرائیل صهیونیست را یکجا با هم بګیرند البته اګر واقعاً مطابق به خواست امت اسلامي و ملت هاي مسلمان و برادر ایران و افغانستان، تلاش هاي در جهت تحکیم صلح در افغانستان صورت ګیرد رول ایران در امر اعاده صلح در افغانستان کلیدي بوده و [illegible] مخالفت قاطع خود [illegible] اسلامي در منطقه و قطع حمایت خود از وابسته ګان آنها در افغانستان، زمینه را براي ختم جنګ و تحکیم حکومت فراګیراسلامي در افغانستان مساعد سازد .

امارت اسلامي افغانستان نیز از همچو تلاش ها که بر خلاف منافع کفر بین المللي و مطابق به آمال امت اسلامي در منطقه صورت ګیرد پشتیباني کامل خود را ابراز میدارد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki.
Editor: Mula Asadullah Hanifi.
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press